## Auckland Regional Public Health Service

### Rātonga Hauora ā Iwi o Tamaki Makaurau

AUCKLAND DISTRICT HEALTH BOARD · COUNTIES MANUKAU DISTRICT HEALTH BOARD · Waitemata District Health Board Te Wai Awhina

Working with the people of Auckland, Counties Manukau and Waitemata

# کله چې ستاسو ډاکټر تاسو د روغتون يا کلينيک يو متخصص ته ولیږي

**Referral to a Specialist — Afghan Pashtu**

**June 2011**


Auckland Regional Public Health Service

Rātonga Hauora ā Iwi o Tamaki Makaurau

AUCKLAND DISTRICT HEALTH BOARD · COUNTIES MANUKAU DISTRICT HEALTH BOARD · Waitemata District Health Board Te Wai Awhina

Working with the people of Auckland, Counties Manukau and Waitemata

**ډاکټر تاسو د روغتون یا کلینیک یو متخصص ته لیږلي یئ. دا اسانتیاوې وړیا ده او ستاسو څخه به څه پیسې نه اخیستل کیږي.**

تاسو به د روغتون یا کلینیک څخه د ملاقات د وخت یو لیک ترلاسه کړئ. د ملاقات لپاره وخت اخیستل عموماً د لږ نه لږ درې میاشتې اخلي.

کله چې تاسو ته لیک ملاو شي نو ددې لوستل یقیني کړئ یا بل کوم کس ته ووایئ چې تاسو ته یې ولولي. تاسو باید ضرور ددې تائیدولو لپاره هدایات تعقیب کړئ چې تاسو به خپل ملاقات له ځئ.

که ضرورت وي نو تاسو کولای شئ چې د روغتون یا کلینیک څخه ژباړن وغواړئ. تاسو د نارینه یا ښځینه ژباړن او د خپلې مخصوص لهجې غوښتنه کولای شئ.

که تاسو غواړئ چې خپل د ملاقات وخت بدل یا فسخ کړئ، نو تاسو باید ضرور روغتون یا کلینک ته زنګ ووهئ.

که تاسو خپل ملاقات ته حاضر نه شئ نو د نوي ملاقات لپاره وخت اخیستل به ډیر وخت اخلي او تاسو د انتظار د لست څخه ویستل کیدلې شئ.

روغتون به ستاسو عمومي ډاکټر (GP) ته یو راپور ولیږي. که تاسو د یو څخه زیات ډاکټران لرئ نو راپور به هغه ډاکټر ته ولیږل شي کوم چې تاسو روغتون یا کلینیک ته رالیږلې یئ.

روغتون یا کلینیک ته ملاقات له د تللو لپاره به پلان ته اړتیاوې.

تاسو باید روغتون یا کلینیک ته د تللو لپاره د ټرانسپورټ انتظام د خپل ملاقات د وخت څخه پوره مخکې وکړئ. که تاسو کلینیک ته مخکې نه یئ تللي نو ددې د معلومولو لپاره نیم ساعت وباسئ. دا مهم ده چې په خپل وخت راورسئ ترڅو ستاسو څخه خپل وار ضایع نه شي.

که تاسو ماشومان لرئ نو دا به ښه وي چې د کورنۍ یو غړی یا ملګری د هغوی په کور کې یا ستاسو سره په روغتون کې خیال ساتي. ددې د انتظام کولو ذمه واري ستاسو په سر ده.